مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

٢٠٢٣/٠٧/١١

# یوه آرامه شیبه، یو آرام فریاد

## (کیسهٔ طرحه)



نرى شمال لګیده، دکتابخاني دکوټې پرکړکۍ يې نرمه او نرۍ خوله لګوله، کیسه مې لیکه، یوڅه مې ولیکه، ستړی شوم ، ومی غوښتل لږ دمه ونیسم ، کوچ ته مې ډډه ولګوله، دالمارۍ روکو ته ځیرشوم ، کتابو ته خیرشوم ... آرام ایښې وو، هیڅ يې نه راته ویل خوزه پوهیدم چې هغوی څومره خبرې درلودې اوڅومره نا ویلې يې په زړونوکې پرتې وې ....

هغوی له ماسره خوشاله دي، ځکه چې، یوازې زه یم چې آرامۍ ته يې نه پرېږدم ، ټول مې پاڼي پاڼي اړولي دي،اوخپلې دزړونوخبرې يې نه دي را نه سپمولې ...

هو، په همدغه سوچ کې بیا ورته ځیرشوم ، ښه مې ورته وکتل په فکرکې مې راتیره شوه ، چې په پنډو پنډو اوبکسوبکسومې له کومو ملکو راتیرکړل، په دې هیله چې یوڅوک به مې وستایې ، یوڅوک به يې یوه ورځ ووایې ، ګټه به ترې واخلي ، وابه اړولي ، اویوڅه به پرې ولیکي، خوداسې ښکاري چې زما دسوچ داوړۍ شړۍ نه شوې، ځکه چې له ما پرته نورداسې څوک  دلته نه را ښکاري چې دغه الماری به له کتاب دښمنوکیږومکیږو پرته چې دخوراک په تمه به ځان د هغوله ویلوډکو زړونوته رسوي بل څوک ونه ګوري اویا به يې کله هم پرا نه نیزي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

تراوسه خو زه لاهم بنه يم چي زه دوی ته په مینه اوهیله ګورم اودوی ماته خپلي درني اوښکلي پاني پانی دهرکلي په نامه په مینه مینه اوورینوتندیو پرانیزي ...

هو، له ماسره د زړه خوله کوي اوکله کله په دغو شپو ورځوکي د حال په ژبه راته وايي اوهیله راڅخه کوي :
-دوه کاله وشول، چي دسپینوخوتور زړواوناداونوکیرومکیرو سترګي موږته نه راپورته کيږي ...موږ دوی پیژنو، موږ دوی لیدلي دي، د دوی اوزموږ دښمني ډیره پخوانی ده، داسي لکه زموږ د لوی هستونکي اوشیطان .... موږ دغو کیرو مکیرو ته مه پريږده، دوی ډیرظالم دي، دوی موږ خوري، دوی موږ سيځي ځکه چي موږ دنړی هستونکي د لوستلوله پاره را ليږلي اوايجاد کړي يو ...خودوی هغه شونډي چي موږ لوستای شي تري اوهغه سترګي چي موږته دقدراو زده کړي په هیله راپورته کيږي هغه ړندوي ... او هغه تنکي اوپیغلوټي نجوني چي له موږ سره مینه لري، وژني اودهغوی خولي بندوي ...
هو، موږ له دوی وژغوره ... هو، همدغو... له دغو کیرو مکیرو !
له دغوسپینو پوښواوتور زړو نادانو ........ !
یوې اوبلي خواته مي وکتل، الماری ته مي وکتل، کتابوته مي وکتل ....
ځان مي آرام ونیو اوبیرته مي په خپله کیسه لیکنه باندي پیل وکړ ....

پای
**خالق رشید**
**نوی ډیلی**
۲۰۲۳ کال جولای ۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ